مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۱۰/۱۱/۲۸

# یادونه کور ته په ماتم راغلي



چې هم خوښي وي او هم غم دلبره
ګوزاره ښه ګه په دا چم دلبره

دواړه به غبرګ درته په یو وخت راځي
چې بل چا کړي، که په بخت راځي

اوس خو راغلي، هم خندا، هم ژړا
کله به خاندم، کله کړم انګولا

ربه تر تا نه هم کوربان شمه زه
چې ژړا وکم، که خندان شمه زه

په دوه لار نه، په څلور لاره کې ناست
چاره راشوې، اوس په چاره کې ناست

خوښي ویرونه په یو چم راغلي
یادونه کور ته په ماتم راغلي

ګورم به نور څه راروان دي ربه
چې ورانول او که ودان دي ربه

۲۰۱۹/۰۹/۰۵
هبدرسلیف
دنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ